الدرس الرابع عشر | خوارلسم درس
من معجزات النبي ﷺ | د نبی ﷺ بعضی معجزی

معجزات : د نبی ﷺ عظیمة معجزة قرآن دی ، داسی معجزة ده چی تر قیامت پوری به موجوده وی ، او څوک ئی هم مقابله نشی کولی ، الله تعالی ټولو خلقو لره دعوت ورکړی دی ددی قرآن مقابلې ته چی ددی قرآن پشان لس سورتونه راوړی ، او یا یو سورت راوړی او یا لس آیاتونه راوړی ، د مشرکانو بے بسی د قران د معجزی دلیل دی ،

**د نبی ﷺ د نورو معجزات تفصیل دادی** : یوه ورځ د مکی مشرکانو د نبی ﷺ نه د معجزی مطالبه وکړه د الله تعالی په حکم باندی نبی ﷺ سپوږمۍ طرفته ایشاره وکړه ، سپوږمۍ دوه ټکړی شوه ، ډیرځله د نبی ﷺ د ګوتو مبارکو نه به معجزةً اوبه روانې شوی ، کانړو د نبی ﷺ په لاس مبارک کښې د الله تعالی ذکر کولو ، نبی ﷺ هغه کانړی د ابوبکر ﷺ په لاس کښې کیښودل بیا د عمر ﷺ بیا د عثمان ﷺ په لاس کښې او بیا به هم د الله تعالی ذکر کولو ، د نبی ﷺ په موجودګی کښې صحابو رضوان الله علیه أجمعین د طعام نه د الله تعالی ذکر أوریدلی دی ، کانړو او ونو به نبی ﷺ ته سلام پیش کولو ، د چیلۍ هغه لیچه چی نبی ﷺ له ئی خبر ورکړو چی د یهویانو یوی ښځی پکښې زهر أچولی وو ، یو باندې چی د نبی ﷺ نه د معجزی مطالبه وکړه نبی ﷺ ونی ته ایشاره وکړه ، ونه راروانه شوه او د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شو ، او بیا واپس خپل ځائی ته لاړه ، د یوی ګډی غُلانزه کښې پیۍ نه وو لیکن د نبی ﷺ لاس مبارک د مسحه کیدو سره پکښې پیۍ راغلل، نبیﷺ پخپله هم وڅکل او ابوبکر ﷺ له ئی هم ورکړل ، د علی ﷺ سترګی خوږ شوی وی ، نبی ﷺ ورباندی خپلی خولۍ مبارکی لاړی ولګولی سترګی ئی روغی جوړی شولی ، د یو صحابی خپه زخمی شوی وه ، نبی ﷺ ورباندی خپل لاس مبارک راښکل خپه ئی بلکل صحیح شوه ، رسول الله ﷺ د أنس بن مالک ﷺ په حق کښې دعاء کړی وه ، اے الله دده په عمر مال او اولاد کښې برکت واچوی ، أنس ﷺ پخپل عمر کښې (۱۲۰) یوسل شل بچې وشمیرل او د أنس ﷺ کهجورو به په کال کښې دوه ځله کهجوری کولی او الله تعالی ورله (۱۲۰) یوسل شل کاله عمر ورکړی وه ، نبی ﷺ په منبر باندی د خُطبی دپاره ولاړ وو یو صحابی راغلی د باران د دعاء درخواست ئی وکړو نبی ﷺ پوراً لاسونه اوچت کړل ، چه آسمان کښې وریځ نوه په انً فنً کښې د غرونو پشان وریځی راغلی او تر بلې جُمعی پوری ډیر زیات باران راووارید، په راتلونکی جُمعه باندی دغه صحابی د باران د ډیر والی شکایت وکړو ، نبی ﷺ د الله تعالی نه دعاء وکړه او باران بند شو، او خلق د مسجد نه بهر ووتول په داسی حال کښې چی نمر راختلی وو، په غزوه خندق کښې د خندق په کنستلو کښې تقریبا زر(۱۰۰۰) کسان شریک وو، دوه یا دری کیلو وربشی او یوه چیلۍ وه ټولو خلقو ددی طعام نه ځان موړکړو او خوراک بیا هم کم نه شو ، او دغه شان د بشیربن سعد ﷺ لور خپل پلار او ماما له لږی شان کهجوری راوړی ، نبیﷺ دغه معمولی کهجوری په ټولو خندق واله باندی وخوړلی ، او پدی موقع کښې ابوهریرة ﷺ سه لږ شان طعام تیار کړو، نبی ﷺ په ټول لښکر باندی برابر وخوړلو ، په مکه کښې د قریشو تقریبا سل(۱۰۰) ځوانان د نبی ﷺ د کورنه بهر په دی انتظار وو ، چه (معاذالله) نبی ﷺ به قتل کړی ، لیکن نبی ﷺ ددی ځائی نه لاړو او ددوی په سرونو باندی ئی خاوری هم واچوالی دوی ورباندی پوهه نه شو ، سراقه بن مالک د هجرت به موقع باندی د نبیﷺ د قتل (معاذالله) دپاره کله چی نبی ﷺ ته ورنیژدی شو نبی ﷺ ورته بددعاء وکړه د هغه دآس مخکښنی خپې په زمکه کښې ورننوتلی.